# In the last one and a half decades, Pashto Art - Literary book publications (An overview of the process)

## په تېره یوه نیمه لسیزه کښې د پښتو هنري ادبي کتاب خپرونې بهیر ته یوه کتنه

Muhammad Dawood [1]

## Abstract:

Books are considered the foundation of language and literature around the world. Many books have been written in Pashto language and literature and in the last one and a half decades many books have been published on various topics. These books include novels, short stories, literary reports, travel stories, literary research and much more. Over the past decade and a half, many publishers and the publishing associations have been made, The Pashto literature section of this series is necessary. Literature is directly and indirectly influenced by politics and the political situation. As a relatively broad-based government has been established in Afghanistan over the past decade and a half, literature has flourished and many books have been published. Who published these books, which authors have made the most efforts in this regard and how effective these efforts have been, are briefly discussed in this article.

Keywords: literature and politics, Books foundation of knowledge

لنډیز:

کتابونه د ژبې او ادبیاتو د بنسټ په توګه په ټوله نړۍ کښې مطرح دي . په پښتو ژبه او ادبیاتو کښې هم ګڼ کتابونه لیکل شوي او په تېره یوه نیمه لسیزه کښې خو بېخي ډېر کتابونه خپاره شوي، چې د مختلفو برخو په اړه دي. په دې کتابونو کښې ناولونه، لنډې کیسې، ادبي راپورتاژونه، سفرنامې، ادبي څېړنې او نور شامل دي. په دې یوه نیمه لسیزه کښې ګڼ خپرندویان او خپرندوئې ټولنې رامنځته شوي، چې د نورو مسلکونو ترڅنګ ئې ادبي کتابونه هم خپاره کړي. په دې لړ کښې د پښتو ادبیاتو برخه غوښنه ده. ادبیات په مستقیم او غیر مستقیم شکل د سیاست او سیاسي اوضاع تر اغېز لاندې دي. څرنګه چې په تېره یوه نیمه لسیزه کښې په افغانستان کښې نسبتا یو پراخ بنسټه حکومت جوړ شو، نو ادبیاتو هم په کښې وده ومونده او په دې ترڅ کښې ګڼ کتابونه خپاره شول. دا کتابونه چا خپاره کړي، کومو لیکوالو په دې لړ کښې ډېرې هڅې کړي او دا هڅې څومره اغېزناکې وې، په دې مقاله کښې پرې لنډ بحث شوي دي.

[1] Researcher at University of Nangarhar, Jalalabad, Afghanistan

هدفونه:
په تېره یوه نیمه لسیزه کښې چې څومره ادبي کتابونه خپآره شوي، دا کومو خپرندویو ټولنو خپاره کړي، عمده مطالب ئې څه دي؟
د پښتو ادب په کومو برخو کښې ډېر کتابونه خپاره شوي، ددغو کتابونو موضوعات څه دي او پر ټولنه او خلکو ئې څومره مثبت اغېز کړي دي.
د پښتو ژبې او ادب د بېلابېلو برخو لپاره په اینده کښې د څومره نور کار هیله کېدي شي او پښتو ژبه او ادب په تېره کتاب خپراوي پر کومه خوا روان دي، دا ددې څېړنې عمده هدفونه ګڼلي شو.

د څېړنې مېتود:
دا څېړنه په کتابتوني مېتود ولاړه ده. په بېلابېلو کتابتونونو کښې کتابونه کتل شوي، راټول شوي او بیا تر پېژندګلوۍ وروسته پرې لنډ بحث شوي. په دې لړ کښې یوازې پښتو ادبي کتابونو کتل شوي او په عامه توګه په پښتو ژبه چاپ شوي کتابونه په کښې شامل نه دي. په دې څېړنه کښې لړ ترلړه دوه نیم سوه کتابونه کتل شوي، چې زیاتره د لنډو کیسو دي او ناولونه، راپورتاژونه، سفرنامې، خاکې، طنزونه، تکلونه او ادبي څېړنې په کښې شاملې دي.
د څېړنې پوښتنې:
۱- په تېره یوه نیمه لسیزه کښې څومره کتابونه خپاره شوي؟
۲- کومو خپرندویو ټولنو او مرکزونو پښتو ادبي کتابونه خپاره کړي؟
۳- د کتاب خپروني بهیر څرنګه روان دي، مثبتې او منفي خواوې ئې کومې دي او پر ټولنه او عامو خلکو دغه بهیر کوم مثبت اغیز کړي دي؟

تاریخي پس منظر:
په پښتو ژبه او ادبیاتو کښې د کتابونو د چاپ او خپراوي بهیر په نولسمه پېړۍ کښې پیل شوي. دا وخت ختیز پوهانو د پښتونخوا په سیمو کښې څېړنې وکړې او دا څېړنې په لندن، پاریس او هند کښې چاپ شوي دي. په همدې پېړۍ کښې د چاپ صنعت لومړي هند او بیا د تاریخي افغانستان سیمو پښتونخوا ته راغي، چې په پیل کښې ئې دیني کتابونه چاپول، خو وروسته په شلمه پېړۍ کښې د هر مسلک کتابونه په پښتو ژبه ولیکل شول او چاپ شول.
په تېره شلمه پېړۍ کښې ګڼو خپرندویانو پښتو ادبي کتابونه چاپ او خپاره کړل، چې هم د دولتونو له خوا په رسمي توګه او هم په ازاده توګه په کښې د کتابونو خپراوي شامل دي. د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کښې په پښتونخوا کښې ازادې ادبي ټولنې جوړې شوې، چې شاعرانو او لیکوالو په کښې خپل اثار نقد او کره کتنې ته وړاندې کول او بیا ددوي اثار په شخصي توګه چاپېدل. همدا دود د اوسني

افغانستان سیمو ته هم راوغځېد او په یوویشتمه پېړۍ کښې دلته هم ګڼې ادبي او فرهنګي ټولنې جوړې شوې، چې د ژبې او ادب په بېلابېلو خواوو ئې کتابونه چاپ او خپاره کړل، چې دا شمېر اوس سلګونو او آن زرګونو ته رسېږي. په دې ځېړنه کښې د کتاب خپرونې پر بهیر لنډ بحث شوي او یو لړ مهم او نامتو خپرندویه ټولنې په کښې یادې شوي او معرفي شوي دي.

په تېره یوه نیمه لسیزه کښې د پښتو ادبي کتابونو خپراوي ته کتنه

د پښتو ژبې او ادب د لیکنې او خپراوي کار خو له نولسې پېړۍ راپیل دي، بیا په شلمه پېړۍ کښې منظم شوي او اوس چې یوویشتمه پېړۍ ده نو د لانظم او جوړښت پر خوا روان دي.

تېره یوه نیمه لسیزه چې د ۲۱مې پېړۍ د پیل کلونه دي، د اوسني افغانستان په تاریخ کښې ارزښتمن دي، ځکه چې وچ او رټل شوي سیاسي رژیمونه په کښې رانسکور شول او د خلکو په رایه ډیموکراټیک رژیم ټېنګ شوي، ځکه نو لیکوالو او شاعرانو او ادبیانو هم په کښې لړ څه ساه اخیستې او په ازده فضا کښې ئې د ادب او هنر تخلیق او تحقیق پیل کړي دي.

تر دې وروستۍ یوې نیمې لسیزې مخکښې چې په افغانستان کښې د طالبانو رژیم ټېنګ و او تر هغو لاله مخه د پېښور د مجاهدینو کورواکي او ډلواکي وه، ګڼ شمېر افغانان ګاونډیو او لیرې وطنونو ته مساپر شوي وو، په دوي کښې لیکوال و شاعران و فرهنګي شخصیتونه هم وو. (وفا، ۲۰۱۷ع)

په دې لړ کښې پېښور او کوټې ته ګڼ شمېر افغانان بې ځایه شوي وو، دوي هلته ادبي او فرهنګي فعالیتونه کول او کتابونه خپرول. په ۲۰۰۱م کال اوکتوبر کښې چې د امریکا په مشرۍ نړۍ والې ټولنې پر افغانستان یوځي ګوزارونه پیل کړل او د طالبانو رژیم ړنګ شو، ډېر شمېر بې ځایه شوي او کډوال شوي لیکوال او فرهنګي اشخاص بېرته خپل وطن ته راستانه شول او په لیکونو او فرهنګي چارو بوخت شول.

دا وخت د افغانستان نوي ټېنګ شوي رژیم د بیان، رسنیو او مطبوعاتو ازادي اعلان کړه او بیا ئې دوه کاله وروسته په اساسي قانون کښې هم تضمین کړه، په دې توګه په افغانستان کښې د څه نا څه یوې پېړۍ هغه سکوت مات شو، چې لیکوالو او فرهنګیانو په کښې د خپلو اثارو د ازاد خپراوي حق نه لاره. که څه هم چې دغه هر حرکت ښېګڼې او نیمګړتیاوې دواړه لري. خو په افغانستان کښې د لومړي ځل لپاره د ازاد مطبوعاتو خپراوي په رسمي ډول تایید شو، ومنل شو او عملا لیکوالو او فرهنګیانو په دې برخه کښې کار پیل کړ.

لومړني کلونه لړ څه ساړه وو، ځکه چې لیکوال بېرته وطن ته په ستنېدو دلړ وخت لپاره د خپلو مېنو او ژوند په چارو بوخت شول، خو ځینو بیا هم کتابونه چاپ او خپاره کړل، خو چې څومره وخت تېرېده هومره د سیاسي او ټولنیز ژوند ترڅنګ د ادب او فرهنګ برخه هم رابرسېره کښې ده او نتیجه دا شوه چې د پښتو نثر په برخه کښې په تېره د ادبي نثر برخه په چټکه توګه پرمخ لاړه او د ځینو مشخصو ژانرونو په برخو کښې پاموړ پرمختګ وشو. (هېوادمل، ۲۰۱۱ع)

تېره یوه نیمه لسیزه د پښتو ژبې او ادب لپاره په افغانستان کښې د پرمختګ مهم وخت دي .له یوې خوا ازادو مطبوعاتو او د ژبې او بیان ازادۍ یوه نوي بدلون ته مخه پرانېسته، له بلې خوا په نړۍ کښې بدلونونو د افغان ولس او افغان فرهنګیانو طرز فکر هم یوه نوي لوري ته ورسیده کړ، ځکه نو دوي په بشپړې خپلواکۍ هغه څه خپاره کړل، چې زړه ئې غوښتل.

په پښتونخوا کښې چې د بیان او د مطبوعاتو ازادي لاله وخته وه( له سیاسي برخې پرته)، هلته هم لیکوالو او د هنري نثر مینه والو نثري کتابونه چاپ او خپاره کړل.

په لروبر کښې دغې نسبتا چټکې کتاب خپرونې د پښتو ژبې او ادب په بېلابېلو برخو کښې د کار اثار لوستوالو ته وړاندې کړل، چې تقریبا د هر پښتو ادبي نثري ژانر برخه په کښې شته .ښایي ځینې لږ او ځینې ډېر.تر ټولو زیات چې خپاره شوي، هغه د لنډو کیسو بیا د ناول او بیا سفرنامې دي .دغسې په نورو ژانرونو کښې هم پرمختګ وشو او ګڼ کتابونه په کښې ولیکل او خپاره شول.

که څه هم چې د کیفیت له پلوه ټول دا کتابونه د منلو نه دي، خو کیفیت هم له کمیت نه رازېږي، نو ځکه په کیفي خوا کښې هم پاموړ پرمختګ شوي دي.

پښتو ادبي نثري کتابونه هم خپرندویه ټولنو، هم کتاب پلورونکو او هم اشخاصو خپاره کړي دي .په دولتي کچ هم ځینې پښتو ادبي کتابونه چاپ شوي دي .په افغانستان کښې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د همدې وزارت اړوند د بیهقي خپرندویه ټولنې، د افغانستان د علومو اکاډمي، د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، کابل پوهنتون، د افغانستان ځینو نورو پوهنتونونو او د قومونو او قبایلو چارو وزارت ادبي کتابونه خپاره کړي دي.

د پښتونخوا حکومت د ثقافت محکمې هم پښتو ادبي کتابونه خپاره کړي چې ځینې ئې غوره ادبي اثار ګڼل کېدي شي.

لاندې به په لنډیز سره هغه دولتي او غیر دولتي خپرندویه ټولنې، موسسات او اشخاص وښیو، چې پښتو ادبي نثري کتابونه ئې خپاره کړي دي:

دولتي خپرندویه ټولنې

۱ـ افغانستان

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت

د افغانستان د علومو اکاډمي

بیهقي کتاب خپروونکښې موسسه

کابل پوهنتون

دکابل ښوونې او روزنې پوهنتون

ننګرهار پوهنتون

خوست پوهنتون

پکتیا پوهنتون
بغلان پوهنتون
کندهار پوهنتون
هلمند پوهنتون (انځور، ۲۰۱۶ع)
۲. په پښتونخوا او کوټه کښې
د پښتونخوا د ثقافت محکمه
پښتو اکاډمي – پېښور پوهنتون
پښتو ادبي بورډ
د پاکستاني ژبو د مطالعاتو مرکز
د کوټې پښتو اکاډمي
ځانګړې (نادولتي) خپرندویه ټولنې
کابل
دانش خپرندویه ټولنه
اکسوس کتاپ پلورنځي
سروش کتاب پلورنځي
مستقبل خپرندویه ټولنه
وایګل خپرندویه ټولنه
افغان ادبي بهیر
کاینات خپرنیز مرکز (باجوړي، ۲۰۱۹ع)
جلال اباد
مومند خپرندویه ټولنه
ګودر خپرندویه ټولنه
مازیګر خپرندویه ټولنه
ختیځ خپرندویه ټولنه
وحدت خپرندویه ټولنه
میهن خپرندویه ټولنه
د ختیزو سیمو د لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه
ختیځ ادب اکاډمي
د ختیزو ولایتونو د ژورنالېستانو ملي ټولنه
پکتیا

علمي کتابپلورځي.
خوست
غرغښت کتاب پلورنځي
مزار شريف:
د وزير محمدګل خان مومند ادبي ټولنه
کندهار
علامه رشاد خپرندويه ټولنه
نارنج خپرندويه ټولنه
د کندهار اطلاعاتو او فرهنګ رياست
صداقت کتابخانه
پېښور
يونيورسټي بک ايجنسي
يونيورسټي پبلېشر
الاژهر خپرندويه ټولنه
پښتو نړۍ وال کنفرانسونه
باچاخان ټرسټ
ګڼ شمېر ادبي جرګې – مرکې او شخصيتونه
کوټه
صحاف کتاب پلورنځي
پښتو ادبي غورځنګ
لمبه مجله
پښتو ادبي دنيا - کوټه
کراچۍ
جرس ادبي جرګه
پښتو ادبي کاروان
جرمني
د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه
د افغانستان د کولتوري ودې ټولنه

امريکا

پښتو یون – نیویارک

مسکو

په مسکو کښې د افغانانو خپلواکه ټولنه

د لیمه مجلې اداره

دغه راز د اروپا او هندوستان په ځینو ښارونو کښې استوګنو افغانانو هم هنري نثرونه لیکلي او خپاره کړي، چې ډېرجزییات ئې په لاس نه لرو .

پورته چې کومې دولتي او غیر دولتي فرهنګي ټولنې، موسسې او بنسټونه یاد شول، ددوي ځینو ډېر او ځینو لږ ادبي کتابونه چاپ کړي، چې زمونږ د ژبې او ادب اصلي بنسټ جوړوي . یادې ادارې تر اوسه فعالې دي او تمه کېږي، چې په راتلونکو کلونو کښې به تر دې په ښه بڼه کتابونه خپروي .

په تېره یوه نیمه لسیزه کښې د پښتو هنري نثر خپاره شوي اثار

پښتو هنري نثر د شلمې زېږدې پېړۍ زېږنده دي . خو تر دې وړاندې ئې د خوشال خټک په دستارنامه او د افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې هم لومړنۍ نښې شته . په شلمه پېړۍ کښې هنري نثر وپېژندل شو او په لروبر کښې لیکوالو ولیکه او وې پېژاند .

شلمه یا د پښتو د معاصر ادب د پېژندګلوۍ پېړۍ، څېړونکو او ادبپوهانو په بېلابېلو پړاوونو وېشلې، چې وروستي ئې څلورم یا د فکري بدلون پړاو ګڼلي شو .

دا وروستي پړاو باید له ۱۹۹۱م کال راهیسې پیل شي، ځکه چې په دې وخت کښې د لروبرو لیکوالو او شاعرانو په تخلیق کښې د ازادۍ او رومانویت عناصر ورننوتي او پخوانۍ متعهدې او ایډیالوژیک ادب مخ په ځوړ شوي دي .

د فکري بدلون دې پړاو ایله یوه لسیزه شاته کړې وه، چې په افغانستان کښې د نړۍ والو په مداخلې نوي بدلون رامنځته شو . پخوانۍ دوه دورې ( د مجاهدینو او طالبانو) پای ومووند او یو نسبتا ازاد او ډیموکراټیک حکومت ټینګ شو، دا د ۲۰۰۱م کال اکتوبر میاشت وه .

د دې دورې له پیله بیا تراوسه څه دپاسه یوه نیمه لسیزه په کابل او ولایتونو کښې او هم په پښتونخوا کښې په هنري نثر ګڼ کتابونه ولیکل شول او خپاره شول . ددې وخت د نثر ژبې په مخکښې په نسبت لاندې ځانګړتیاوې خپلې کړې:

دهنري نثر لیکوالو ژبه نوره هم ادبي او هنري شوه او اضافي کلیمات او توري ترې ووتل .

لیکوالو لوړې او مسلکي زده کړې وکړې او د لیکنې ژبه ئې د ژبپوهنې، ګرامر او معیار له پلوه ښه شوه .

د عربي او پارسي کلیمو کاروونه کمه شوه او بې ضروروته ونه کارول شوې .

موضوعات نورهم مشخص شول او د لیکنو محتوایي معیارونو ته هم پام ډېرشو .

دهنري نثر لیکوالو ټول هنري نثري ژانرونه وازمېیل او په هر ژانر کښې ښې بیلګې رامنځته شوې .

په وروستۍ یوه نیمه لسیزه کښې(۲۰۲۰-۲۰۰۱م) د پښتو هنري نثر له مخکښې راپېل شوي چوکاټونه: لنډې کیسې، ناول، ډرامې،طنز، ادبي لیکونه، خاطرې، یونلیکونه، راپورتاژ، ادبي ټوټې، ادبي انځور او نور پسې غښتلي کړل، بلکې ځینې نوي چوکاټونه هم په کښې وپالل شول.لکه کیسه ګۍ. د فیسبوک په راتګ سره د کیسه ګۍ ژانر که څه هم په لویدیز ادب کښې لا له مخکښې و، په پښتو ادب کښې هم لاړ پراښسته او عام شو.د هنري نثر نور ژانرونه د ځوانو لیکوالو له خوا لاښه درک شول او له هره پلوه په کښې غوره بدلونونه وکتل شول.

د منځپانګې له پلوه پښتو هنري نثر په غوره موضوعاتو ولیکل شو، پیغام په کښې نور هم مشخص شو او ډېر لږ نثرونه به وي، چې فني ځانګړنې به په کښې نه وي مراعت شوي. پښتنو ځوانو لیکوالو تېره یوه نیمه لسیزه په هنري نثر کښې ښایسته ښه پرمختګ کړي.په تېره د لنډو کیسو او ناول په برخه کښې. د پاتو نورو هنري ژانرونو یون هم څه ځنډني او ټکني نه دي.څومره چې ژوند ماشیني کېږي او پښتنه ټولنه مدني اساتیاوو ته لاسرسي ډېروي، هماغومره پښتو ادب، بلکې ټول نړۍ وال ادب، لاښه مشخص کېږي او لا ډېرې لارې اولوري روښانوي.که څه هم چې د پښتو هنري نثري ادب لا له وړاندې نه ژوندني لوري خپل کړي و او د ژوند اړونده مسلې لکه ازادي غوښتنه، دېوزلۍ او تیټ ژوند غندنه، بې انصافي، د بد اخلاقۍ کړل او نورې محیطي مسلې په کښې انځور شوې وې.خو له ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۱۷ع پورې هنري ادب لاندې ځانګړنې خپلې کړې دي:

۱.د تېر په نسبت په لنډه کیسه او ناول کښې د عصریت بدلون رامنځته شو.د لنډې کیسې او ناول اصلي چوکاټ او پلاټ ښه درک کړای شو.لیکوالو له لیکنو سره سره زده کړې هم لرلې، نو ځې په کیسه کښې فني نیمګړتیاوې کمې شوې.

۲.د موضوع له پلوه په کیسو کښې د ژوند مهمې برخې یادې شوې.نوي موضوعات په کیسه ییز بهیر ورننوتل.د ژوند او مدني محیط هغه څه، چې زیاتره په اوسنیو خلکو ژور اغېز لري، د کیسو برخه شول.

۳.د ناول په برخه کښې هم ورته پرمختګ شوي، د مخکښې په نسبت نوي او غوره موضوعګانې وټاکل شوې.

۴.رومانونه که ونه لیکل شول، نو وژباړل شول.

۵.د ډرامې لیکنې په لږ کښې نوي ځوان لیکوال راووتل.په ډرامه کښې د پښتنو د ټولنیز ژوند اړونده داسې کردارونه راغلل، چې ژوند ځې د اصلي پېښنو یوه ډېره ښه کاپي ښوده.

۶.سفرنامې چې مخکښې لږې لیکل شوي، اوس ډېرې ولیکل شوې.

۷.د تکل او کیسه ګۍ په نامه نوي ژانرونه پراخه شول او ښه وپېژندل شول.

۸.د کمیت او کیفیت دواړو له پلوه د پښتو نثر هنري ژانرونو ښه وده وکړه.

۹ . په ۲۰۰۱ کال کښې په افغانستان کښې تر راغلي بدلون وروسته د زلمو ليکوالو د شمېر په ډېرېدو رومانوي او تفريحي مسلې هم د نثري ادب برخه شوې، نهيلي او نااميدي، چې مخکښې ډېره وه، کمه شوه. که څه هم پاي ته رسېدونکې نه ښکاري.

۱۰ . د ليکوالۍ مسلکي پوهه، د نقد غونډې او ناستې او د ليکوالو د تفکر ښه والي په ادب مثبت اغېز وکړ.

۱۱ . د مخکينې دور په کيسو کښې يادشوي ارزښتونه، لکه ازادي غوښتنه او له ماډرنيزم سره پېژندګلوي پراخه شوه. په ډېرو کيسو کښې دغه ارزښتونه په لاښه او څرګنده بڼه تشرېح شول.

۱۲ . ليکوالو سيمه ييز اصطلاحات، مفاهيم او محاورې د مخکښې په نسبت لاډېر په کيسه ييز ادب، تکل ليکنه، خاکو ليکنه، سفرنامو او راپورتاژونو کښې راوښودل او ادب له زېږه نه، راښه حالت ته ورننووت او دا ډول نورې ځانګړنې، چې د هر عنوان په ځانګيزو برخو کښې به ئې په اړه لنډې يادونې وشي. که څه هم د پښتونخوا په هنري ادب کښې لږ څه د پرديو ژبو کليمات زيات وليدل شول، خو په ادبي ژبه کښې ئې ډېر محسوس بدلونه نه دي راوستي.

په افغانستان او پښتونخوا کښې ځينې وخت د هنري ژانرونو په ټاکل شويو موضوعاتو کښې رنګارنګي ليدل کېږي، چې په سياسي او ټولنيز چاپيريال پورې اړه لري. د افغانستان په ليکلي هنري نثر کښې خپلواکي، له جګړو کرکه، عدالت او کارو زيار ته هڅونه ډېره ده، خو د پښتونخوا په هنري نثر کښې بيا د پېښو پروخت انصافانه چلن، رومانويت، محبت او د پښتنو د کورني ژوند مسلې زياتې راغلي دي، چې دا هريو د پښتنو د ټولنيز ژوند د ناخوالو او ښکلا يو ډول انځور دي.

## په تېره يوه نيمه لسيزه کښې د پښتو افسانې چټک مزل

په تېره يوه نيمه لسيزه کښې لنډې کيسې( افسانې) تر بل هر هنري ژانر ډېرې ليکل شوي، ځکه خو دلته په افسانو خبره کوو.

لنډه کيسه، چې پېښوري پښتانه ئې د اوردو ژبو غوندې افسانه بولي، په تېرو پېنځلسو کلونو کښې څرګند لوري خپل کړي او زياترو ځوانو ليکوالو په کښې خپل ذهن و قلم ازمېيلي دي . مخکينو نيمزالو ليکوالو هم کيسې ليکلي او يو لوي بهير ترې جوړ شوي دي . په تېرو پنځلس کلونو کښې تر سل ټوکو زيات کيسه ييز اثار خپاره شوي، چې د کيسو شمېر ئې زرګونو ته رسي.

د افسانو ژباړونکي

په تېره یوه نیمه لسیزه کښې د پښتو ناول خپاره شوي اثار

پښتو ناول تر ۲۰۰۱م کال مخکښې هم او تر دې کال وروسته هم بېلابېل موضوعات راچاپېروي ـ چې زیاتره د پښتنو د ژوند ، کړو وړو ، ستونزو ، مینې ، رومان او اجتماعي بې عدالتیو بیان دي ـ په دغو کښې ځینې داسې ناولونه دي، چې په شخصي تربګنیو او دوښمنیو لیکل شوي، ځینې ئې افاقي موضوعګانې دي، چې په نورو ګاونډیو ولسونو او ملتونو کښې هم کتل کېږي ـ خو زیاترو دغو ناولونو د پښتنو ټولنیز ژوند ، محرومیتونه او ستونزې په داستاني ژبه تشریح کړي دي ـ

په تاریخي لحاظ د پښتنو سیمې آن له ۱۸۴۹ راهیسې د برتانوي هند تر واک لاندې راغلې، چې وروسته ئې زیاتې پښتني سیمې ونیولې ـ په اوسني افغانستان کښې هم درې ځله انګلیس په جګړو کښې ښکېل شو او مات کړای شو ـ چې له امله ئې انګلیس، پښتانه د ډیورنډ کرښې په ایستلو بېل کړل ـ که څه هم په ټولنیز لحاظ د پښتنو د ژوندانه شرایط په دغو دواړو سیمو کښې توپیرلري، خو دا توپیر ښایي په جزییاتو کښې راشي او په عمومیاتو کښې دپښتنو ټولنیز او اقتصادي ژوند د ډیورنډ کرښې دواړو خواوو ته تقریبا یو ډول د مطالعې ځای لري ـ په داسې حال کښې چې یوه نیمه پېړۍ پښتانه سره بېل وساتل شول، بیا هم ددوي د ژوند شرایط او ستونزې، نیمګړتیاوې، دودونه، کولتور او هیلې یو ډول دي او له همدې وجې په دواړو خواوو کښې لیکل شوي ناولونه او د هغو موضوعګانې د پښتنو د ټولنیز ژوند هنري تشریح ده ـ

په فني او تخنیکي لحاظ تر ۲۰۰۱م کال وروسته ناول نسبت مخکنیو هغو ته پرمختللي شوي، ځکه نو په عمومي ډول زیاتې فني او تخنیکي ستونزې په کښې نه شته ـ که څه هم که کره کتونکي په جلا ډول ددغو وختونو ناولونه وڅېړي، فني او تخنیکي نیمګړتیاوې او ستونزې به رابرسېره شي، خو د ناول لیکنې عمومي پلاټونه، د کیسې پیل، منځ، داوج ټکي، تصادمات او پای په کښې په مناسبه اندازه ځای شوي، چې د اوسني ناول مهم توکي ګڼل کېږي ـ زیاتره دا ناولونه تلوسه هم لري او لوستونکي بوختوي شي ـ ددې دورې د ناولونو کیسې هم له انساني طرز فکر او حقیقتونو څخه ډېرې لیرې نه دي، بلکې کتونکي ئې د خپل چاپېریال پېښې ګڼي ـ

ژباړلي ناولونه:

یو شمېر ناولونه له اوردو ، پاړسي، انګلیسي او عربي ژبو راژباړل شوي، چې طبعا د هغو سیمو د خلکو او ملتونو استازي کوي ـ په کولتوري لحاظ دغه ناولونه او ددوي پلاټونه د پښتني سیمو اقدرا نه شي معرفي کوي، خو زیاترو ژباړونکو د ژباړې لپاره داسې ناولونه ټاکلي، چې په پښتني سیمو کښې ورسره لوستونکي مینه ښیي ـ یو شمېر دیني او عقیدتي ناولونه بیا شرعي بنسټ لري، چې په طبیعي توګه پښتنه مسلمانه ټولنه ورسره علاقه لري او هرکلي ئې کوي ـ

له ۲۰۰۱م تر ۲۰۲۰ کال پورې د پښتو نامتو ناول ليکونکي هم بايد په دوو پړاوونو کښې وښودل شي:

لومړي، هغه چې تر دې کلونو مخکښې ئې ليکوالي کړې او ناولونه، کيسې او ليکنې ئې خپرې شوي، خو په دغو کلونو کښې هم فعال وو او ناولونه ئې خپاره شوي. دويم هغه چې تر ۲۰۰۱م کال وروسته يعنې د معاصر ادب د څلورم يا فکري بدلون پړاو تر پيل وروسته راټوکېدلي او فرهنگي هڅې ئې پيل شوي دي:

لومړي: هغه ناول ليکوال، چې تر ۲۰۰۱م کال مخکښې او وروسته په دواړو وختونو کښې ئې ناولونه ليکلي دي:

ډاکټر شېرزمان غمجن، طاهر اپريدي، رحيم شاه رحيم، محمد ابراهيم شبنم، سليمان لايق، شېرين زاده خدو خېل، محمد حسن خان خليل، غازي سيال، سعدالدين شپون، محمد صديق پسرلي، ډاکټره سلمي شاهين او نور.

له نورو ژبو پښتو ته ناول ژباړونکي:

محمد زوبير شفيقي، ډاکټر لطيف بهاند، شاه جهان وګرپال، زين الله واحدان، محمد روز محتاج، نجيب الله جالب، ګل رحمان رحماني، بختيار ساحل، صالح محمد صالح، شفيع الله تاند، نصرت الهام، نذير احمد سهار، عبدالهادي دريځ، مبارک شاه دوادزي، سيد نظيم سيدي، ذبيح الله احساس، عصمت څاروان او نور

د کتاب خپرونې بهير کره کتنه

په تېره يوه نيمه لسيزه کښې ليکل شوي او خپاره شوي پښتو کتابونه تر ډېره ارزښتمن دي، ځکه چې زمونږ د اوسني چاپيريال له هيلو سره په بېلابېلو فورمونو کښې ډېر پرمختګ شوي. لوستي ځوانان ميدان ته راوتي دي او ځينې ښه نثرونه ئې ليکلي چې زمونږ د هنري نثر مهمه برخه ګڼل کېدي شي.

په دې بهير کښې ځينې کتابونه له هيلو ورهاخوا کمزوري ګڼل کېدي شي او موضوعات ئې تکراري دي. ښه نه دي ليکل شوي. ژبه، ګرامر، جملې او ترکيبونه ئې ښکلي نه دي، ځينې وخت لا غلط هم وي. ځينې ليکوال ډېر نهيلي دي او ځينې بيا ډېر هيله من دي. (پسرلي، ۲۰۲۰ع)

لنډې کيسې تر ټولو ډېرې ليکل شوي. ځينې کيسې د کره کتنې ځايونه لري، ځينې بيا فني او تخنيکي نيمګړتياوې لري. دغسې ناولونه، طنزونه، ډرامې، سفرنامې، راپورتاژونه، خاطرې، ادبي ټوټې او ... نور ژانرونه هم دي.

په تېره څه باندې يوه نيمه لسيزه کښې (۲۰۰۵-۲۰۲۱ع) کښې پښتو هنري نثر په تېره لنډې کيسې او ناولونو نور هم جوت لوري خپل کړي. د موضوع له پلوه مهم ژوندني مسايل د کيسو په موضوعاتو کښې

راغلي. په ژوند کښې د ناوړه چلن خلاف په کښې بغاوت شوي، مينه په کښې څرګنده شوې. له متمدن او ښکلي ژوند سره د انسان مينه، د انساني ارزښتونو دودونې ته په کښې درناوي څرګند شوي دي. په بدو کښې د ښځو په ورکړه، په ناوړه او غير اخلاقي چلن په کښې بد ويل شوي، په بې عدالتۍ، بې انصافۍ، ناسمو اخلاقو او نفساني خواهشاتو په کښې نقد او کره کتنه شوې، د لنډې کيسې پيغام او محتوا ډېره له مهمو ژوندنيو ځانګړنو ډکه شوې، چې انسانان خپلو بد ګڼو ته متوجه کوي او ښېګڼو ته ئې نژدې کوي. زياتره د همدغو موضوعاتو تشريح او سپړنه ده، چې د هنر ژبې ورته د ادب پوښ ورکړي او په لوستونکو ئې کيسه درنه کړې ده. د کيسو موضوعات که څه هم په پښتونخوا او نورو خورو سيمو کښې هر ليکونکي له خپل چاپېريال نه اخيستي دي، خو په عمومي توګه د پښتنو ژوند له يو لړ ستونزو نه کړېږي او ستونزې او نا سم چلن په کښې تقريبا له ورته حالت سره مخ دي، نو ځکه خو په ټوله کښې ښې موضوعګانې له چاپېريال څخه ليکوالو ټاکلي او بيا ئې پرې کيسې ليکلي دي.

له فني خوا هم کيسې او ناولونه ښکلي شوي دي. د کيسو پلاټونه بشپړ پاي ته رسول شوي. د کيسې کرکټرونه ښه خبرلوڅ او له حال سره سم ګړول شوي. په کيسو کښې کرکټر ټاکنه او بيا هغه غړول د ليکوال اصلي جوهر او استعداد څرګندوي. په زياترو ليکوالو کښې دا استعداد ښکاره شوي، چې يو کرکټر د لوستونکو له علاقه مندئ او تمې سره سم څه ډول په خبرو راولي. دغه راز په هنري ښه خيال کاروونه، په زياترو کيسو کښې وينو. دغه ډول کيسې د تخنيک او جوړښت له پلوه زمونږ د اوسني ادب غوره کيسې دي.

زمونږ د اوسنۍ لنډې کيسې او ناولونو ځيني ليکوال خو دومره پياوړي دي، چې په کيسو او ناولونو کښې ئې خپل هنر په ډېر ماهرانه انداز کښې وړاندې کړي او د خبرو تصويري جملې ئې داسې برابرې کړې، لکه چې يو عکاس عکاسي کوي. مکالمې ئې هم تر پخوا لاپسې مشخصې شوې. تلوسه هم د اوسنيو کيسو اصلي منځ ټکي دي. که څه هم په پخوانۍ دوره کښې هم د کيسو تلوسې ښې وې، خو اوس د نويو موضوعاتو په ټاکنه ليکونکو درک کړې، چې د کيسې تجسس او تلوسه څه ډول پرمخ يوسي.

د پيغام له پلوه هم اوسنۍ لنډې کيسې او ناولونه زياتره د غوره او ښو پيغامونو استازي کوي. اوسنيو کيسو د ادب اصلي ماهيت ښوولي، چې خلکو ته په نرمه او لطيفه ژبه يا په بله وينا په هنري ژبه سمه لاره وښيي. کيسې دا حق ادا کړي او لاهم د ادايينې په درشل کښې ده.

که څه هم د اوسني پښتو ادب ټولې ليکل شوې او خپرې شوې کيسې او ناولونه له يوې مخې ډېرې عالي نه شي ګڼل کېدي، خو څومره والي ته په کتو په کښې د څرنګوالي اغېز ډېر محسوس دي او دا مونږ ته ښيي، چې په اينده کښې به پښتو لنډه کيسه نوره هم ښکلې او پياوړې ووينو.

له لنډو کيسو پرته په دې يوه نيمه لسيزه کښې، راپورتاژونه، سفرنامې، خاکې، طنزونه، تکلونه او د نورو اصنافو کتابونه هم خپاره شوي، چې په اينده کښې ځانګړو څېړنو ته اړتيا لري او په کار ده چې د ادب څېړونکو له خوا پرې ژورې څېړنې وشي.

نتیجه

په تېره یوه نیمه لسیزه کښې په پښتو ژبه او ادبیاتو کښې ګڼ کتابونه خپاره شوي، په دوي کښې عمده برخه د لنډې کیسې ده. د لنډې کیسې څه دپاسه دوه سوه ټولګې خپرې شوي، چې موضوعات ئې زیاتره د پښتنو د چاپیریال په باره کښې دي. همدا راز په تېره یوه نیمه لسیزه کښې د یو نیم سلو په شاوخوا کښې ناولونه لیکل شوي او خپاره شوي دي. ددغو ناولونو موضوع ګانې هم له جګړې کرکه، د پردیو د ناوړو دسیسو رسوا کول، سوله غوښتل، د ناوړه رواجونو او دودونو مخنیوي او نور دي.

دغه راز په تېره یوه نیمه لسیزه کښې د پنځوسو په شاوخوا کښې سفرنامې لیکل شوي او خپرې شوي، چې په دې وخت کښې ګڼ لیکوال په کور دننه او بهر ګرځېدلي او بیا ئې سفرنامې لیکلي دي. یو پر درې برخه سفرنامې د افغانستان د مختلفو ولایتونو لیدنې کتنې دي، خو دوه برخې بیا د بهرنیو هېوادونو سفرنامې دي، چې په لړ کښې ئې د مسکو، امریکا، چین، جاپان، دوبۍ، عربستان، کویټ، چین، هند، جرمني، ډنمارک، منځنۍ اسیا ځینې هېوادونه او ایران شامل دي. تر ټولو زیاتې سفرنامې د امریکا په باره کښې دي.

دغه راز د طنزونو څو ټولګې هم خپرې شوي دي، چې زیاتره په کښې په بې عدالتیو، اداري فساد، له دندې نه ناوړه ګټه اخیستنه، خیانت، غلا، ټګۍ او نورو موضوعاتو په اړه پیغامونه راغلي دي.

ادبي راپورتاژونه هم لیکل شوي، خو شمېر ئې د ملاحظې وړ نه دي، ښایي شمېر ئې تر لسو پورې ورسي، چې زیاتره د ادبي غونډو، مشاعرو او علمي سیمینارونو په باره کښې دي.

ادبي خاکې هم لیکل شوي، چې د لیکوالو او مهمو سیاسي شخصیتونو پر ژوند وفن رڼا اچوي. د خاکو د کتابونو شمېر پنځلسو ته رسي. د تکلونو کتابونه هم چاپ شوي، چې شمېر ئې پنځو ته رسي. دا ټول په پښتونخوا کښې لیکوالو لیکلي او چاپ کړي دي.

د ادبي څېړنو په لړ کښې هم ډېر پرمختګ شوي. لړ ترلړه درې سوه ټوکه بېلابېل کتابونه خپاره شوي، چې د کلاسیکو شاعرانو د ژوند و فن، د معاصرو لیکوالو او ادبي شخصیتونو په فن و شخصیت رڼا اچوي. دغه راز لرغوني ادبي متون هم یا نوي موندل شوي او خپاره شوي او یا د دویم ځل لپاره په خپرو شویو متنونو نوې څېړنې شوي دي، په دې لړ کښې د ادبیاتو د تاریخ، فوکلور او ګرامري څېړنو په لړ کښې هم ګڼ کتابونه خپاره شوي دي.

په تېره یوه نیمه لسیزه (۲۰۰۵-۲۰۲۱ع) کښې د پښتو ژبې او ادب په بېلابېلو برخو کښې ګڼ کتابونه چاپ شوي. دا کتابونه زیاتره لیکوالو په خپل شخصي لګښت خپاره کړي، خو یوه غوښنه برخه په کښې حکومتي او غیر حکومتي مرستندویه ټولنو خپاره کړي. په دې کتابونو کښې لنډې کیسې، ناولونه، ادبي خاکښې، ادبي طنزونه، سفرنامې، راپورتاژونه او ادبي څېړنې شاملې دي.

دا ټول کتابونه د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ لپاره خام مواد دي .په دې کتابونو کښې د پښتو ادب ډېرې پټې خواوې رابرسېره شوي او بحثونه پرې شوي دي.په دې یوه نیمه لسیزه کښې د پښتو هنري نثر ډېر ښکلي کتابونه هم کتلي شو، چې د پښتو ادب دنګه مانۍ پرې ولاړه ده او د ویاړ او مننې وړ دي . پښتو هنري نثر په دې لسیزه کښې ډېره وده کړې او لاهم د پرمختګ پړاوونه وهي .

که د پښتو ژبې او ادب په اړه د کتاب خپرونې دا بهیر همداسې روان وي، نو پښتو ژبه او ادب به په راتلونکو دوه لسیزو کښې د نړۍ وال ادب معیار ته ورنژدې شي، چې دا د پښتو لیکوالو او پښتو ویونکو لپاره خورا ښه خبر ګڼل کېدي شي .

# References

Kabul: Afghanistan Cultural Development - Pashto fiction- Anzoor, Zarrin (2016 AD) Association, 200 p

Kabul: Oxus - Contemporary history of Pashto literature- Bajauri, successful (2019 AD) Bookstore, 55 p

how do I write short stories? Kabul: Soroush Bookstore, 11 p- Spring, Ajmal (2020 AD)

Jalalabad: - Wafa, Mohammad Daud(2017 AD) History of contemporary Pashto literature Momand Publishing Society, 20 p

Peshawar: Danish - Eight hundred years of Pashto prose- Hewadmal, Zalmai (2011 AD) Publishing Society, 822 p